مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۱۲مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر درېیمه | دویم کال|۲۹۳یمه گڼه

# ګډو ځواکونو یو ځل بیا په پکتیا کې ۱۲ ملکي وګړي وژلي


۳

## د ګډو ځواکونو ناپایه وحشت

۲ مخ

## د ملي یووالي حکومت بهرنی سیاست؛ لاسته راوړنې او نیمګړتیاوې

۲ مخ

## د کورنیو چارو وزارت نا ویل شوې خبرې!

۳ مخ

## د هلمند لپاره د طالبانو والي په هوايي برید کې وژل شوی

د هلمند والي وايي، د دغه ولایت لپاره د وسله والو طالبانو نومول شوی والي ملامنان له خپلو یوشمېر کسانو سره د هوايي برید په ترڅ کې وژل شوی دی.
د هلمند والي محمد یاسین رسنیو ته ویلي چې ورمه شپه د نوزاد ولسوالۍ په برنوزاد سیمه کې د هلمند لپاره د طالبانو نومول شوی والي ملامنان له دوو ویاندویانو، حافظ رشید او جاوید او یوشمېر نورو کسانو سره د هوايي برید په ترڅ کې وژل شوی دی.
نوموړي ویلي، ملامنان لومړی ټپي و چې وروسته یې د سختو ټپونو له امله سا ورکړې. نوموړي زیاته کړې چې له ملامنان سره د نورو وژل شویو کسانو شمېر به وروسته په ډاګه شي.
وسله والو طالبانو هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره د نوموړي وژل کېدل تایید کړي او ویلي یې دي چې د نوموړي وژل کېدل به یې لیکې کمزورې نه کړي.
ملامنان چې اصلي نوم یې عبدالرحیم و، د نوزاد ولسوالۍ اوسېدونکی او په قوم اسحاقزی و چې له تېرو اتو کلونو راهیسې د هلمند لپاره د وسله والو طالبانو د والي په توګه ګومارل شوی و او په دې وروستیو کې د طالبانو د لوی درستیز مرستیال او د سوېلي ولایتونو لپاره د طالبانو پوځي مسوول هم و.

## له افغانستانه د سرتېرو د ایستلو پلان نه لرو


۵ مخ


هېواد
۴ مخ

## سومالیا

د دغه هېواد ۷۵ سلنه وګړي د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد ٦۵ سلنه صادرات او ٦۲ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دغه سکټور څخه لاس ته راځي.



## له افغانستان څخه چین ته د هوايي دهلېز له لارې ۵۰۰ ټنه جلغوزي صادر شوي




د کرنې وزارت چارواکي وايي، تر اوسه د هوايي دهلېز له لارې له افغانستان څخه چین ته ۵۰۰ ټنه جلغوزي صادر شوي او تر راتلونکې یوې میاشتې به دغه کچه د ٤۰ میلیونو ډالرو په ارزښت زرو ټنو ته ورسېږي.
افغانستان په ۱۳۹٦ لمریز کال کې له هند سره هوايي دهلېز پرانیست. تر هغه وروسته یې له ترکیې، سعودي عربستان او یوشمېر نورو هېوادونو سره هم هوايي دهلېزونه پرانیستل چې تر اوسه یې د میلیونو ډالرو په ارزښت توکي دغو هېوادونه ته صادر کړي.
د کرنې وزارتویاند اکبر رستمي ویلي، سږ کال د لړم په ۱۵مه د افغانستان د جلغوزیو او نورو محصولاتو د صادرولو په موخه له چین سره هوايي دهلېز پرانیستل شو چې دا نوبت د جلغوزیو د صادراتو د کچې د زیاتېدو سبب شو.

## طالبان ٦۰ رانندهٔ وسایط زغال سنگ را در سمنگان ربوده اند



مسئولین محلی سمنگان می گویند که طالبان مسلح، ٦۰ راننده موترهای انتقال دهندهٔ سنگ زغال را ربوده اند.
عبدالمتین ولسوال دره صوف پایین این ولایت گفت که این واقعه، دیروز ساعت ۷ صبح در منطقه دره خشک این ولسوالی به وقوع پیوسته است.
او گفت که طالبان مسلح، از رانندگان متذکره خواسته اند تا از هر موتر ۷ هزار افغانی، به آنها محصول بپردازند.
ولسوال گفت که بسا مناطق این ولسوالی، در اختیار طالبان قرار دارد و تا نیروهای امنیتی مناطق متذکره را تصفیه نکنند، این مشکل پایان نمی یابد.
به قول موصوف، طالبان مسلح کلینران وسایط را نیز با خود برده بودند؛ اما آنها را رها نموده اند.
یک کلینر که از قید طالبان آزاد شده می گوید که طالبان مسلح، از وسایط زغال سنگ رهسپار مزارشریف، ۱۴ هزار افغانی و از موترهایی که به شهر ایبک می روند، شش هزار افغانی طلب نموده اند.
منیر رحیمی سخنگوی قوماندانی امنیه سمنگان می گوید که طالبان، از رانندگان یادشده پول مالیه و گمرک را تقاضا کرده اند، که تاکنون نپرداخته اند.
وی گفت که پولیس وارد منطقه شده و تلاش ها به هدف رهایی رانندگان آغاز گردیده است. نامبرده افزود که متنفذین قومی نیز تلاش می ورزند تا افراد ذکرشده را از چنگ طالبان آزاد سازند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـــځ

### د ګډو ځواکونو ناپایه وحشت

په هلمند کې په یوه هوايي برید کې دېرش ښځې، ماشومان او نور بې ګناه وګړي ووژل شول. لا دا غم سوړ نه و چې په لوګر کې ګډو ځواکونو ملکي وګړي له کورونو را و ایستل او ویې وژل. ورپسې یې په پکتیکا کې عملیات وکړل او بې ګناه وګړي یې شهیدان کړل. په پکتیکا کې لاریونونه وشول، خو ګډو ځواکونو خپل وحشت ته دوام ورکړ او ورمه شپه یې بیا په غزني کې درې او د پکتیا په زرمت کې ۱۲ بې ګناه کلیوال چې ماشومان هم پکې وو، په نیمه شپه په خپلو کورونو کې ووژل.

دا په یوه اونۍ کې په هوايي بریدونو او د ګډو ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې معلومې پېښې او شمېرې دي. ښايي ځینې نامعلومې پېښې هم وي، خو پوښتنه دا ده چې ولې؟ ولې په قصدي او شعوري ډول ملکي وګړي په نښه کېږي؟ ولې دلته د افغان انسان ژوند ارزښت نه لري؟ ولې څوک د دغو جنایتونو پوښتنه نه کوي؟ ولې ارګ او نور چارواکي غلي دي او بالاخره ولې د دغو وحشتونو مخه نه نیول کېږي؟

اوس داسې نه ښکاري چې د ملکي وګړو ډېری وژنې به تېروتنه او یا ناسم معلومات وي. ډېری پېښې داسې دي چې قصدي وژنې ورته ویلی شو. کله چې په لوګر کې ملکي وګړي له کورونو را ایستل کېږي او بیا ویشتل کېږي، په دې کې نو هېڅ تېروتنه نشته او کله چې په زرمت کې خلک لومړی نیول کېږي او بیا وژل کېږي، په دې کې نو تېروتنه نشته. که موږ وروستۍ پېښې وګورو، ټولې همداسې دي. په دغو وژنو کې د ښکېلو ځواکونو په اړه هم جدي پوښتنې شته. په خوست کې کمپاین ځواکونه او په کابل کې صفر یو قطعه په دغو عملیاتو کې دخیل دي چې امریکايي ځواکونه هم ورسره وي. داسې ښکاري چې دا وژنې مخامخ د امریکایانو په امر کېږي، ځکه چې په دغو عملیاتو کې ښکېل ځواکونه مخامخ د امریکایانو تر قوماندې لاندې دي.

حکومت به پخوا کله کله داسې بریدونه یا توجیه کول او یا به یې هم تحریفول. اوس غلی دی او له ډېر فشار وروسته د څېړنو خبره وکړي، خو ټول پوهېږي چې دا څېړنې بې مانا او د خلکو په سترګو کې د خاورو شیندل دي. له بده مرغه د ملي یووالي حکومت هم د ملکي وګړو په وژنه کې مخامخ ښکېل دی او هم د امریکايي ځواکونو له خوا د ملکي وګړو د وژنې په اړه غلی دی. دوی په دې ډول دریځ سره خلکو ته د پردیتوب احساس ورکوي، له مخالفینو سره مرسته کوي او غواړي دا جګړه او وحشت لا پسې وغځوي.

د ملي یووالي حکومت مشران به پر دغو جنایتونو له دې امله هم غلي وي او یا به پکې مرسته کوي چې ټاکنې را روانې دي او دوی غواړي امریکایان خوشاله وساتي. ښايي نور لاملونه هم وي، خو هېڅ لامل د توجیه وړ نه دی او دا کار د ټولو ارزښتونو خلاف له افغان ولس سره دښمني ده.

حکومتي مشران دې پوه شي چې دا بریدونه بې ځوابه نه پاتې کېږي. دا ډول وحشتونه او جنایتونه به حکومت لا زیات کمزوری کړي او د ملي یووالي حکومت د مشرانو پر ضد به نفرت زیات شي. دا نفرت هغه لوري ته روان دی چې بیا به نه امریکا او نه هم بل څوک اوسني بلواکه مشران پر ولس وتپلی شي.

# د ملي یووالي حکومت بهرنی سیاست؛ لاسته راوړنې او نیمګړتیاوې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د ولسمشر غني په مشرۍ د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې، څه باندې څلور کاله تېرېږي او په دې موده کې هېواد له امنیتي او سیاسي بې ثباتۍ او اقتصادي ننګونو سره مخ دی. په دې منځ کې بهرنی سیاست هغه برخه وه چې د ملي یووالي حکومت د ځینو ستونزو ترڅنګ، لاسته راوړنې هم پکې درلودې.

په ټولیز ډول، د ولسمشر غني په دوره کې د افغانستان بهرني سیاست تر ډېره غبرګونی چلند درلود او دا تر ډېره بیا په هېواد کې له امنیتي وضعیت سره تړل شوی و. دغه راز بهرنی سیاست بې ثباته روان و او په یوشمېر برخو کې نامتوازن هم و.

دا چې په ټوله کې د ملي یووالي حکومت د بهرني سیاست تګلاره څه وه او په تېرو څه باندې څلورو کلونو کې د بهرني سیاست په برخه کې کومې لاسته راوړنې او نیمګړتیاوې موجودې وې؟ هغه موضوعات دي چې دلته مو پرې بحث کړی دی.

**د ولسمشر غني بهرنی سیاست**

له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته بیا د حامد کرزي د ولسمشرۍ د دویمې دورې تر پایه، د افغانستان پر بهرني سیاست ډېری مهال له دې امله نیوکې موجودې وې چې ګواکي په غبرګوني ډول مخته وړل کېږي. له دې ورهاخوا په دغو ۱۳ کلونو کې له ګاونډیانو سره د اړیکو خرابوالی، د ګاونډیو او نورو هېوادونو پر وړاندې د متوازن بهرني سیاست نه لرل، هغه څه وو چې په دې موده کې یې د افغانستان پر بهرني سیاست یې نیوکې زیاتې کړې وې.

په ۲۰۱۴ ز کال کې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره اشرف غني د ولسمشر په توګه د لوړې د مراسمو پر مهال وویل چې د افغانستان ستونزه بهرني ابعاد لري او له همدې امله بهرنی سیاست د هېواد لپاره حیاتي ارزښت لري. ولسمشر غني د افغانستان د بهرني سیاست اړوند پنځه کړۍ معرفي کړې. په دغو کړیو کې هېوادونه او نړیوال سازمانونه په لاندې پنځو برخو وېشل شوي وو:

**لومړۍ کړۍ:** ګاونډي هېوادونه

**دویمه کړۍ:** د اسلامي نړۍ هېوادونه

**درېیمه کړۍ:** امریکا، اروپا، جاپان او کاناډا

**څلورمه کړۍ:** اسیايي هېوادونه

**پنځمه کړۍ:** نړیوال سازمانونه

په ټولیز ډول په دې دوره کې د بهرني سیاست تر ټولو ډېره پاملرنه د سولې قضیې او اقتصادي پیوستون او د نړیوالو مرستو راجلبولو ته وه. د سولې په برخه کې ګاونډیو هېوادونو او اسلامي نړۍ ته زیاته پاملرنه وشوه، ځکه دغه هېوادونه په تېرو څلورو لسیزو کې د افغانستان په قضیه کې ښکېل وو، خو دا چې اوسمهال افغانستان د امریکا، اروپا، کاناډا، جاپان او ځینو نړیوالو سازمانونو پر مرستو او ملاتړ متکي دی، نو ځکه دوی ته هم د ولسمشر په تګلاره کې ځانګړې پاملرنه وشوه. په دې دوره کې د یوه اغېزناک او ګټور بهرني سیاست لپاره د ملي یووالي حکومت له هڅو سره سره، بیا د حکومت د بهرني سیاست تګلارې د ځینو لاسته راوړنو ترڅنګ ستونزې او نیمګړتیاوې هم لرلې.

**د بهرني سیاست لاسته راوړنې**

د ولسمشر غني په دوره کې د ملي یووالي حکومت د بهرني سیاست تګلاره لاندې لاسته‌راوړنې لري:

**۱-د نړیوالو مرستو جلبول:** ولسمشر غني د ملي یووالي حکومت په لومړیو کې د بهرني سیاست د تګلارې پر مټ، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د ډېرې برخې له وتلو وروسته وتوانېد چې د افغان ځواکونو او بیارغونې په موخه په ۱۳۹۵ لمریز کال کې په وارسا او بروکسل کنفرانسونو کې د اروپايي هېوادونو او امریکا مرستې راجلب کړي.

د وارسا په غونډه کې د ناټو مشرانو پرېکړه وکړه چې د ۲۰۱۷ ز کال تر پایه به خپل سرتېري په افغانستان کې ساتي او تر ۲۰۲۰ ز کال پورې به له افغان حکومت سره د افغان ځواکونو د ملاتړ په موخه ۵،۴ میلیارده ډالره مرسته کوي. په بل اړخ کې د بروکسل په غونډه کې د بیارغونې لپاره له افغان حکومت سره د ۱۵،۲ میلیارده ډالرو مرسته وشوه.

**۲- د انرژۍ د لېږد سیمه ییزې پروژې:** د ملي یووالي حکومت پر مهال ولسمشر غني وتوانېد چې د یوشمېر سیمه ییزو پروژو عملي کارونه پیل کړي. لکه د برېښنا د کاسا-۱۰۰۰ او د تاپي د ګازو نللیکې سترې سیمه ییزې پروژې.

**۳- تجارت او ټرانزیټ:** د ملي حکومت پر مهال ولسمشر غني د ټرانزیټي لارو په متنوع کولو او افغانستان د یوه هېواد له انحصار څخه ایستلو په برخه کې هم لاسته راوړنې لرلې.

د ملي یووالي حکومت پر مهال د افغانستان، ایران او هند ترمنځ د چابهار بندر د پراختیا ټرانزیټي او سوداګریز تړون لاسلیک شو چې له مخې به یې افغانستان له نړۍ او هند، له افغانستان او منځنۍ اسیا سره سوداګري او راکړه ورکړه د چابهار بندر له لارې کوي. د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د رېل پټلۍ جوړول، د افغانستان د هرات او د ایران د خواف ترمنځ د رېل پټلۍ جوړول، د افغانستان او چین ترمنځ د رېل له لارې د سوداګرۍ پیل. له ځینو هېوادونو سره د هوايي دهلېزونو رامنځته کول او نړیوالو بازارونو ته د افغاني صادراتو رسېدل، هغه څه دي چې په دې دوره کې د ټرانزیټي سوداګرۍ په برخه کې شوي دي.

سولې ته د رسېدو په موخه د بهرني سیاست له لارې هڅې: د ملي یووالي حکومت پر مهال ولسمشر غني د بهرني سیاست له لارې هڅه وکړه چې طالبان په یو ډول د سولې خبرو ته حاضر کړي.

د ملي یووالي حکومت وتوانېد چې د اسلامي نړۍ د دیني عالمانو غونډه په سعودي عربستان کې جوړه کړي او د مکې معظمې د امام له خولې په افغانستان کې د طالبانو روانه جګړه ناروا وبولي. د دې ترڅنګ، پر پاکستان د امریکا فشارونه هم هغه څه وو چې افغانستان یې له تېرې یوې نیمې لسیزې راهیسې په لټه کې و.

د بیت المقدس په قضیه کې د امریکا خلاف رایه کارول: نږدې یو کال وړاندې، افغانستان د ملګرو ملتونو سازمان په هغه بېړنۍ ناسته کې چې د امریکا له لوري د اسرائیلو د پلازمېنې په توګه د بیت المقدس د رسمیت پېژندلو په اړه جوړه شوې وه، د امریکا د دریځ خلاف رایه ورکړه او په دې توګه د ملي یووالي حکومت پر مهال ولسمشر غني د یوه اسلامي هېواد د ولسمشر په توګه خپل مسوولیت ادا کړ او په بیت المقدس کې یې د امریکا د سفارت له پرانیستلو سره مخالفت وکړ.

**د بهرني سیاست نیمګړتیاوې**

د ملي یووالی حکومت پر مهال که څه هم د افغانستان بهرني سیاست لاسته راوړنې لرلې، خو د لاسته راوړنو ترڅنګ یې ځینې نیمګړتیاوې هم درلودې چې لاندې یې یادونه کوو:

**لومړی:** د ولسمشر غني په دوره کې د افغانستان بهرنی سیاست بیا هم تر ډېره غبرګونی و چې له همدې امله یې په ډېرو مواردو کې توازن هم نه درلود. د بېلګې په توګه، د ملي یووالي حکومت په لومړیو کې کابل له اسلام اباد سره خپلې اړیکې دومره ګرمې او نږدې کړې چې تر یوې مودې یې نوي ډیلي ته بېخي شا کړې وه، خو د څو میاشتو په تېرېدو سره دا ګرموالی ختم شو او کابل بېرته د نوي ډیلي په لوري مخه کړه او داسې مهال هم راغی چې د تورخم او چمن بندرونه وتړل شول، پر سرحدي پولو څو ځله نښتې وشوې چې مرګ ژوبله یې هم درلوده او ان دا چې افغان حکومت د اسیا زړه په کنفرانس کې د پاکستان ۵۰۰ میلیونه ډالره مرسته رد کړه.

د سعودي او یمن په قضیه کې د ملي یووالي حکومت ځان له بې پلوۍ وایست او د سعودي عربستان له دریځه یې ملاتړ اعلان کړ. دغه راز ولسمشر غني ونه توانېد چې د نړیوالو زبرځواکونو ترمنځ هم توازن وساتلی شي او په خپلواکه توګه د سیمې او نړۍ له بېلابېلو هېوادونو سره اړیکې وساتي، په ځانګړې توګه له امریکا او روسیې سره په اړیکو کې د توازن نشتون د دې لامل شو چې د ملي یووالي حکومت په دوره کې د دغو دواړو هېوادونو ترمنځ سړه جګړه پیل او کال په کال ګرمه شي.

**دویم:** د ملي یووالي حکومت پر مهال د افغانستان د کمزوري حاکمیت او داخلي اختلافاتو له امله د بهرني سیاست په برخه کې ډېری مهال واحد او وروستی دریځ نه و معلوم. د بېلګې په توګه، د مختلفو راپورونو پر بنسټ له تېرو څو کلونو راهیسې پر ایران له دې امله تورونه دي چې افغانان د سوریې جګړې ته لېږي. په دې اړه افغان حکومت څو ځله د پلټنو ژمنه کړې او ترڅنګ یې ولسي جرګې او مشرانو جرګې هم ډېری وخت په مستقیمه توګه پر ایران له دې امله سختې نیوکې کړې دي او له دغه کار څخه یې د لاس اخیستلو غوښتنې کړې دي، خو نه یوازې دا چې افغان حکومت په دې اړه تر ډېره چوپتیا اختیار کړې وه؛ بلکې د اجرایه ریاست دویم مرستیال محقق د ایران په خاوره کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال له دغه کار څخه ملاتړ وکړ او د ایران په ملاتړ د داعش پر ضد د فاطمیون ډلې ستاینه یې وکړه.

**درېیم:** ولسمشر غني د ملي یووالي حکومت په لومړیو کې په ډېره بېړه له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ، خو په وروستیو کې یې پایله دا شوه چې په افغانستان کې روانه جګړه لا پراخه شوه، ملکي تلفات زیات شول او سلګونه زره افغانان د جګړو او بمباریو له کبله د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شول.

# ایران: د توغندیو هدف مو دفاعي دی او د ملګرو ملتونو له موافقې سرغړونه نه ده

ایران د متحده ایالتونو د انتقادونو په ځواب کې ویلي چې د توغندیو پروګرام یې دفاعي هدف لري او دا د ملګرو ملتونو له پرېکړه لیکه سرغړونه نه ده.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند بهرام قاسمي وايي، د دغه هېواد د توغندیو پروګرام دفاعي دی او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هېڅ پرېکړه لیک د ایران د توغندیو پر ازموینو بندیز نه دی لګولی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو د شنبې په ورځ ایران د هغو منځني واټن ویشتونکو بالستیک توغندیو پر ازموینه تورن کړ چې د ده په وینا، بېلابېلې سرګلولې وړلای شي.

پامپیو دا ازموینه له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي موافقې سرغړونه وبلله او ویې غندله.

د ایران دولتي خبري اژانس ایرنا د بهرنیو چارو وزارت د ویاند بهرام قاسمي له قوله ویلي، د ایران د توغندیو پروګرام په دفاعي هدف جوړ شوی او دا کار د ملګرو ملتونو له پرېکړه لیکه سرغړونه نه ده.

قاسمي دې پوښتنې ته چې ایا ایران د توغندیو کومه نوې ازموینه کړې که نه، نه د تایید او نه هم د رد ځواب ورکړ.

د ملګرو ملتونو امنیت شورا له ایران سره د اټومي موافقې په اړه په خپل پرېکړه لیک کې پر تهران غږ کوي چې تر اتو کلونو پورې پر داسې بالسټیک توغندیو له کار کولو ډډه وکړي چې د اټومي سرګلولو د لېږد وړتیا لري، خو ایران بیا بیا ویلي چې د توغندیو پروګرام یې یوازې دفاعي هدف لري او هغه ادعاوې یې په کلکه رد کړې چې ګنې توغندي یې د اټومي سرګلولو د لېږد وړتیا لري.

د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د څرګندونو په ځواب کې وویل، امریکا ایران ته له هغه پرېکړه لیکه د سرغړونې پېغور ورکوي چې په خپله یې نه یوازې په غیر قانوني او یو اړخیز ډول د ایران له اټومي موافقې د وتلو، بلکې له دې موافقې وتلو ته د نورو اړخونو د هڅولو او حتی پر بندیزونو د هغو د ګواښلو له لارې سرغړونه ترې کړې ده.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په مې میاشت کې د ایران له اټومي موافقې د واشنګټن وتل اعلان کړل.

هغه وویل، دا موافقه نیمګړې ده؛ ځکه د بالسټیک توغندیو د مخنیوي او په سوریه، یمن، لبنان او عراق کې له تروریستي ډلو د تهران د ملاتړ یادونه نه ده پکې شوې.

ټرمپ ژمنه وکړه چې پر ایران به هغه بندیزونه بیا ولګوي، کوم چې د دې موافقې له مخې ترې لرې شوي وو او وروسته یې خپله دا ژمنه عملي هم کړه.



# د کورنیو چارو وزارت نا ویل شوې خبرې!

لیکنه: نصرت «رحیمي»

د هېواد د کورنیو چارو وزارت یو له لویو او مهمو وزارتونو څخه دی. دغه وزارت ته په ځینو هېوادونو کې د کورنیو چارو وزارت وایي او په ځینو هېوادونو کې وزارت کشور یا د هېواد وزارت هم ورته وایي. که چېرې په هر هېواد کې د استخباراتي بنسټ ترڅنګ، د کورنیو چارو وزارت روغ وي، نو هغه هېواد له امنیتي اړخه غښتلی، روغ او پر پښو ولاړ هېواد دی.

زموږ د هېواد د کورنیو چارو وزارت ته که چېرې په دریو برخو کې بنیادي او اساسي کارونه شوي وای، نو اوس به اصلاحات او پرمختیاوې په چټکۍ سره د دغه وزارت په چارو کې ورځ تر بلې په اسانۍ سره پرمخ تللې. د هغو دریو برخو له ډلې یوه یې د پولیسو مسلکیتوب یا د هغوی د ظرفیت لوړول دي. دویم یې له فساد سره مبارزه ده او درېیم هغه یې د تشکیلاتي نظام رغول او په اړوندو بستونو کې د اهلیت او وړتیاوو پر بنسټ ګومارنې دي.

په دې لیکنه کې به یوازې پر یوه برخه رڼا واچول شي؛ ځکه د ټولو برخو یادونه به په دې لنډه لیکنه کې را ونه سپړل شي.

له وړاندې د کورنیو چارو وزارت د مافیایي کړیو، زورواکو او په نظام کې دننه د ځینو مفسدینو لپاره د هغوی د شومو موخو د تر لاسه کولو او د دوی د مادي امکاناتو د پوره کولو لپاره تر ټولو ښه او اسانه مرجع وه. هر ګام به چې په کاري اموراتو کې اخیستل کېده، دوی به په اسانۍ سره کولای شوی چې خپله ونډه پکې تر لاسه کړي. هر چارواکی چې دغه مهم ارګان ته راغلی و، خپل وخت یې تېر کړی و او پورته د فساد خبیث مثلث ته د راز او نیاز پل ګرځېدلی و او د دوی د ګټو د خوندیتوب لپاره د مصئونیت او شراکت د دېګ سرپوښ ګرځېدلی و. اساسي او بنیادي کارونو ته نه یوازې دا چې اراده یې نه وه موجوده او نه یوازې دا چې نه وو تر سره شوي؛ بلکې د بنسټیزو کارونو د تر سره کولو مخه هم نیول کېده.

له دې چې فساد خپل اوج ته رسېدلی و، د کورنیو چارو وزارت په مربوطاتو کې به که څوک په خورا ټیټه دنده او بست کې ګومارل کېدل، نو د هغه کس او د هغه د نږدې کسانو انګېرنه به داسې وه چې سړی په ډېر ښه بست مقرر شوی. په ورته وخت کې به د همدغو کسانو له خوا د دندې غوړې مبارکۍ ورکول کېدې، یعنې دلته تر ټولو کوچنی بست مهم او لوی بست و. په همدې موخه یې خلکو ته او یا هم د خلکو په منځ کې اهمیت درلود.

په یوه امنیتي حوزه کې به که چېرې د ټولي کوم قوماندان مقررېده، د میاشتې تر تېرېدو به د هغه په شخصي ژوند کې د پام وړ تغیرات راغلي وو. یو کال به یې په دنده کې نه تېرېده چې درې- څلور منزله کور به یې اچولی و. دغه راز په نورو برخو او نورو ریاستونو کې په همدې شکل. د یوې حوزې د آمر د تقرر سرقلفي او پیسې به معلومې وې، د هرې حوزې آمر به له ۳ تر ۷ میلیونو افغانیو رشوت باندې مقررېده، ان دا روال تر امنیه قوماندانانو، کمیسارانو او عمومي رییسانو پورې په همدې شکل پلی کېده.

ځینې نور بستونه، د حوزو بستونه او د امنیه قوماندانۍ بستونه به په پورتني شکل وو، خو ځینې نور به بیا د زورواکو او مافیاوو په ولکه کې وو، ځینې امنیتي حوزې او د امنیه قوماندانیو او کمیساریو بستونه به مطلق د زورواکو په واک کې وو، مسوولین به یې د همدوی له خوا په ګوته کېدل او د وزارت رهبرۍ ته به معرفي کېدل، وروسته به همدغه کسان په دې بستونو ګومارل کېدل.

له دې ټولو ولسمشر غني ښه خبر و، په همدې موخه یې په پوره زړورتیا او اوچت اواز د کورنیو چارو وزارت د فساد زړه وباله او د افغانستان خلکو ته یې په دغه مهم ارګان کې د اصلاحاتو د راوستو ډاډ ورکړ.

دغه وخت، هغه وخت را رسېدلی و چې باید په کورنیو چارو وزارت کې پورته ټولو ناخوالو ته د پای ټکی کېښودل شي او د منځه وړلو لپاره یې باید کوټلي ګامونه پورته شي.

په دغه وخت کې د کورنیو چارو وزارت لپاره نوی وزیر ویس احمد برمک معرفي شو. ویس احمد برمک د ښه مدیریت، پاک کار، په اړوندو چارو کې د پوره قاطعیت او د لوړ ظرفیت مخینه درلوده. ویس احمد برمک په لومړیو دریو میاشتو کې د کورنیو چارو په وزارت کې د شته ناخوالو، ستونزو او فساد د لرې کولو او له منځه وړلو لپاره بنسټیزې حللارې او طرحې په لاره واچولې.

د ویس احمد برمک دغه اصلاحي او بنیادي پلانونه د ولس او په ځانګړې توګه د ولسمشر محمد اشرف غني له کلک هرکلي سره مخ شول. ولسمشر غني د نوموړي له اړوندو پلانونو او پالیسیو غوڅ ملاتړ وکړ او هغه ته یې په خپلو خبرو کې وویل چې د کورنیو چارو وزارت په اموراتو کې خپلو پروګرامونو ته چې د وخت تر ټولو مهمه غوښتنه ده، په پوره جرئت سره چټکتیا ورکړي.

د وزارت په هره برخه کې بنیادي او اساسي چارې پیل شوې، هغه که په تشکیلاتي نظام کې رغونه وه، که هغه د امنیتي ځواکونو د ظرفیت لوړول او سمول وو، که هغه په هېواد کې د امنیت را وستلو په موخه لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله پلانونه او پالیسۍ وې او یا هم که هغه د فساد پر وړاندې مبارزه وه.

دغو کارونو او اقداماتو په وزارت کې دننه ځینو مفسدو کړیو ته او له وزارت څخه بهر زورواکو او مافیایي کړیو ته سرخوږی جوړ کړی و. په ورته وخت کې یې د دغو اقداماتو د مخنیوي په موخه ډول ډول فشارونه او تنګدستۍ د کورنیو چارو پر وزیر د هغه د وېرولو او یا هم د هغه د بدنامولو لپاره راوړې، خو د ویس احمد برمک قاطعیت، وطن او ولس ته د هغه ژمنتیا او د حکومت د رهبرۍ ملاتړ او هېڅ زور او زر په دې ونه توانېد چې دغه حیاتي او اړین ګامونه چې د کورنیو چارو په وزارت کې د اصلاحاتو په موخه تر سره کېدل، هغه له خپل اصلي مسیر څخه منحرف کړي.

د پورتنیو اصلاحاتو ترڅنګ، یو یې د ازاد رقابت له لارې د نظامي مهمو بستونو اعلانول وو.

په لومړي سر کې د کابل د ټولو امنیتي حوزو د آمرینو، معاونینو، د جنایي مدیرانو، ساحوي کنټرول آمرینو او کشف آمرینو بستونه د ازاد رقابت لپاره اعلان شول.

یادو بستونو ته په سلګونو هغو کسانو چې نظامي زده کړې یې کړې وې او ښه سابقه یې درلوده، خپل غوښتنلیکونه را واستول. د دوی د اسنادو تر ارزونې وروسته هغه کسان چې په شرایطو برابر وو، ترې تحریري ازموینه واخیستل شوه.

تحریري ازموینه په پوره روڼتیا او شفافیت سره واخیستل شوه. له ازموینې وروسته له بریالیو کسانو تقریري ازموینه هم واخیستل شوه. په ورته وخت کې ویس احمد برمک د کورنیو چارو وزارت د استخباراتو او جنایي برخو ادارو ته په جدي توګه دا سپارښتنې کړې وې، هغه کسان چې په تحریري ازموینه کې بریالي کېږي، باید شالید یې وکتل شي چې له هره اړخه یادو بستونو ته مناسب وي او تر ټولو مهمه دا چې د پیسو او رشوت اخیستو دوسیه او کارنامه ونه لري.

د ازموینو د اخیستو په درشل کې د کورنیو چارو وزیر د ازموینې د اخیستو ټیم ته په ځلونو همدا ویل چې څو موارد باید په همدې ازموینو کې په نظر کې ونیول شي: لومړی دا چې د چا حق تلف نه شي، دویم دا چې له هېچا سره باید مرسته ونه شي. پر ما له بیرون څخه زیات فشارونه دي؛ زه خپله چې له چا سره مرسته نه کوم، نو هېڅوک به هم له چا سره تر حق ورهاخوا مرسته نه کوي او درېیم دا چې زه نن غواړم قومي تعصباتو او خوښخوریو ته د پای ټکی کېږدم او دا به همدلته ثابتېږي.

یادو بستونو ته د وړتیاوو او کاري تجربو پر اساس پوه، پاک او د لوړو تحصیلاتو کسان له هر قوم څخه غوره شول.

یو بل څه چې د یادولو وړ دي، هغه دا چې د قومي جوړښت له مخې په کابل کې په ځینو سیمو کې ځینې سیمې قومي ترکیب لري، نو وزیر دا وپتېیله چې په هغو سیمو کې چې تاجکان زیات اوسېږي، هغو حوزو ته یې پښتانه کسان انتخاب کړل او یا هم په هغو سیمو او حوزو کې چې هزاره توکم زیات دی، د هغو حوزو لپاره یې تاجک یا پښتانه په دندو وګومارل چې دغه اوډون وروسته ښه نتایج درلودل او هغه دا چې مخکې به که د یوې حوزې اوسېدونکي جرم کاوه او د حوزې آمر یا بل مسوول به د هغه له قوم څخه و، نو په ډېریو مواردو کې به هغه عدلي او قضایي ارګانو ته نه وړپېژندل کېده چې په دې شکل ګومارنو او معرفي کولو دا لویه ستونزه حل کړه او دا لومړی ځل دی چې داسې څه تر سره کېږي.

دا لومړی ځل دی چې له ټولو فشارونو او دسیسو سره سره د زورواکو، مافیاوو او مغرضینو شومو موخو ته سر نه ټیټېږي او د ټولو قوانینو په رڼا کې د ټولو پرتو پرګنو لپاره او د ټول ولس لپاره په یوه سترګه کتل کېږي. تاسو ته جوته ده چې په ډېریو مواردو کې به که یو وزیر د یوه ولایت و، نو پر اکثریت مطلقو بستونو باندې د هغه خپل خپلوان او یا هم د همغه ولایت کسان مقررېدل، خو دا لومړی ځل دی چې د کورنیو چارو وزارت د ټولو قومونو لپاره د یوې هنداري حیثیت خپلوي، نه یوازې په همدې بستونو کې دا حالت تطابق کوي؛ بلکې د وزارت په نورو لوړو او کښته بستونو کې هم دا اطلاق کوي.

دا لومړی ځل دی چې په کورنیو چارو وزارت کې بستونه په پوره روڼتیا سره لومړی اعلانېږي او وروسته د اهلیت او شایستګۍ له مخې ورته باظرفیته کسان غوره کېږي، پرته له دې چې د بست پر وړاندې پیسې واخیستل شي، یا داسې څه وشي لکه مخکې چې موجود او معمول ګرځېدلي وو.

# ګډو ځواکونو یو ځل بیا په پکتیا کې ۱۲ ملکي وګړي وژلي



د پکتیا د زرمت ولسوالۍ په سهاکو سیمه کې کمپاین ځواکونو چې بهرنیو ځواکونو یې ملتیا کوله، یو ځل بیا په عملیاتو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون دوولس ملکي وګړي وژلي، څلور یې ټپیان کړي او پنځه نور یې له ځانه سره بېولي دي. د دې ولسوالۍ یو شمېر اوسېدونکو چې د وژل شویو کسانو جسدونه یې د اعتراض په ډول د کابل ـ ګردېز په لویه لاره کې د ولایت مقام ودانۍ ته څېرمه ایښي وو، وویل چې کمپاین ځواکونو یې پر کورونو چاپه وهلې دروازې یې په بمونو الوځولي او دغو کسانو ته چې ښځې او ماشومان هم پکې دي، مرګ ژوبله اړولې ده.

اعتراض کوونکو لویه لاره بنده کړې وه او په سیمه ییزې ادارې یې نیوکې کولې چې د ملکي خلکو ژوند ته پام نه کوي.

اعتراض کوونکو وویل، د شپې دوولس بجې د امریکایي ځواکونو له لوري روزل شوي د کمپاین په نوم ځواکونه چې د بهرنیو ځواکونو یې ملتیا کوله، د دوی کورونو ته ورغلي دروازې یې په بمونو الوځولي او دغو کسانو ته یې مرګ ژوبله اړولې ده.

د نور آغا په نوم یوه اعتراض کوونکي وویل: «تېره شپه په دوولسو بجو نه طالب د باندې ګرځېدو، نه یې جبهه نیولې وه، ټول خلک په کورونو کې ویده وو او د کمپاین ځواکونو په خپلو کورنو کې ویشتلي دي».

د پکتیا مرستیال والي ویلي، د یادې پېښې په اړه یې د زرمت ولسوالۍ د قومي مشرانو په ګډون دولتي هیئت ټاکلی چې جزیات به یې وروسته له رسنیو سره شریک کړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم کمپاین ځواکونو چې قومانده یې د امریکایي ځواکونو په لاس کې ده، په پکتیا، خوست، پکتیکا او لوګر ولایتونو کې په هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې.

بلخوا د غزني په ناوې ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې درې ملکي وګړي وژل شوي او یو شمېر نور ټپیان دي.

په دې وروستیو کې د ګډو ځواکونو هوایي بریدونو او شپنیو عملیاتو زور اخیستی چې تر ډېره پکې ملکي وګړي په نښه کېږي، خو حکومت بیا پرې چوپتیا غوره کړې.

## د کتــاب خبـرې

# د رهبرۍ اړینې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اتلسمه ځانګړنه
**دسپلین:**




**۲) نظم او دسپلین هدف وټاکئ**

که غواړئ چې د جري رایس په څېر منظم انسان شئ، نو شخصي نظم او دسپلین باید ستاسې د ژوند یوه ښېښه او نه تکرارېدونکې چاره نه وي، بلکې دا باید ستاسې د ژوند تلپاتې برخه وي.

**۳) پلمې وننګوئ**

که غواړئ چې په ژوند کې نظم او دسپلین ولرئ، نو له عذرونو او پلمو سره لېوالتیا ختمه کړئ. فرانسیس لیکوال وایي: (زمونږ خطاوې د بښلو وي، خو هغه پلمې او لارې چارې د بښلو نه وي چې مونږ پرې خطاوې پټوو.) که تاسې د شخصي نظم او دسپلین د نه مراعتولو لسګونه پلمې ولرئ، بیا هم په دې پوه شئ چې توجیهات دي، دا باید ځواب شي چې تاسې د رهبرۍ لوړې کچې ته ورسېږئ.

**٤) چې کار نه وي شوی، انعام مه اخلئ**

لیکوال مایک دلاني ربنتیا ویلي: (کومې ادارې چې خپلو لټو او تکړه کارکوونکو ته یو ډول امتیازات ورکوي، ډېر ژر به پوه شي چې په اداره کې د لټو هغو شمېر زیاتېږي.) که تاسې د شخصي نظم او دسپلین عادت نه لرئ، دا به داسې وي لکه فِرني چې له ډوډۍ مخکې خورئ.

**۵) پایلو ته ځیر شئ**

تاسې که د کار د پایلو پر ځای د کار سختۍ ته وګورئ، نو ناهیلي به شئ. که دا ځل یو کار در په غاړه شو او تاسې غوښتل چې دا سخت کار پرېږدئ او د دې پر ځای اسانه کار وکړئ، نو خپل د پام وړ مرکز بدل کړئ، د ژر کار کولو پر ځای پر دې فکر وکړئ چې د کوم کار کول سم او ښه دي.

**پر دې فکر وکړئ**

بې نظم او دسپلینه استعداد داسې وي لکه موټر چې مخکې او وروسته دوه اشترنګونه ولري، موټر وي، ماشین وي، خو دا معلومات نه کېږي چې حرکت په کومه خوا وشي. که چېرې ورټیا هم لرئ، هلې ځلې هم کوئ، خو بیا هم یوه ځای ته نه رسېږئ، نو لامل یې دا دی چې نظم او دسپلین به نه لرئ.

د تېرې اونۍ مهالویش مو وګورئ، څومره وخت مو منظمو فعالیتونو ته ورکړی دی؟ آیا د خپل کار د ودې لپاره مو څه کړي دي؟ آیا داسې کوم اقدام مو کړی چې ستاسې روغتیا زیاته کړي؟ که مو دا کارونه نه وي کړي، ښایي له نظم او دسپیلنه به لرې یئ.

**د رسېدو لار**

د شخصي نظم او دسپیلن د پیاوړتیا لپاره لاندې کارونه وکړئ:

- لومړیتوبونه وټاکئ. وګورئ چې د ژوند کومه برخه مو لومړیتوب لري. دوه درې موارد وټاکئ، له ځان سره یې ولیکئ. بیا وګورئ چې له دې د ترسره کولو لپاره باید څه ډول نظم او دسپلین ولرئ، داسې پلان جوړ کړی چې دغه نظم او دسپلین ستاسې په ورځني ژوند کې ځای شي.
- دلایل لیست کړئ. دې ته لږ وخت ورکړی او وګورئ چې تاسې کوم نظم او دسپلین یادښت کړی دی، پر دې عمل کول به څه ګټه ولري؟ بیا دا لیکنه په داسې ځای کې را وځړوئ چې هره ورځ یې لیدلی شئ. په کومه ورځ چې مو کار ته زړه نه و، دغه لیکنه یو ځل له سترګو تېره کړئ.
- پلمې پرېږدئ. ټول هغه دلایل ولیکئ چې فکر کوئ د دې پلان د عملي کولو مخه نیسي. هغه ولولئ، عذرونه او پلمې یې رد کړئ او پرې یې ږدئ. ان که کوم دلیل درته سم او پر ځای ښکاره شو، بیا هم هڅه وکړئ چې حل لاره ورته وموموئ. هېڅ یو دلیل مه پرېږدئ چې ستاسو د پرمختګ لاره ډب کړي.

**له تجربې زده کړه**

د کاناډا په یوه کرنیز فارم کې پر یوه دېوال دغه جمله لیکل شوې ده: (د بوټې کېنولو تر ټولو ښه وخت پنځه ویشت کاله مخکې و او بل ښه وخت یې اوس دی.) نو همدا نن په خپل ژوند کې د نظم او دسپلین بوټی کېنوئ.

**نولسمه ځانګړنه**
**خدمت:**

که پرمختګ غواړئ، نورو ته لومړیتوب ورکړئ.
ربښتیني رهبران خدمتګار وي. د خپلو خلکو خدمت کوي. د هغوی غوښتنې پوره کوي او دا غم ورسره نه وي چې په خلکو کې محبوبیت پیدا کړي یا پر نورو اغېز وښیندي.
ربښتینو رهبرانو ته هڅونه د خلکو خدمت دی نه خپل شخصي برم او جاه و جلال. له دې امله دوی هره بیه پرې کوي.
(یوجین هابکو)
«لیکوال»
په تاسې باید خپل خلک او پیروان تر خپل موقفه ډېر ګران وي.
(جان مکسوېل)

# سومالیا

حشمت الله نوري

سومالیا د افریقا د لویې وچې په ختیځ کې د ختیځو طول البلدونو د ۴۱ او ۵۱ درجو او د شمالي عرض البلدونو د ۱۲ او یوې درجې ترمنځ موقعیت لري. د دغه هېواد شمال ته عدن خلیج، جنوب او جنوب ختیځ ته یې د هند سمندر او لوېدیځ ته یې ایتوپیا موقعیت لري.

د استوا کرښه د سومالیا په وروستۍ جنوبي برخه کې تېرېږي او له همدې امله د دغه هېواد هوا تووده او د هند د سمندر له اوبو سره د ګاونډیتوب له امله لنده ده.

دغه هېواد د افریقا په ختیځ کې پروت دی او د طبیعي جوړښت له پلوه په دوو برخو وېشل کېږي.

لومړۍ شمالي برخه چې د سمندر له سطحې څخه له ۵۰۰-۱۵۰۰ مترو پورې جګه ده. دویمه جنوبي برخه چې تر ډېره پراخې او هوارې دښتې لري. شبلي او جوبا د سومالیا دوه هغه لوی سیندونه چې د ایتوپیا له جګو غرنیو برخو څخه سرچینه اخلي او د دې وچې سیمې له منځنیو څنډو او سواحلو څخه تېرېږي.

د سومالیا پلازمېنه موګادیشو ښار دی. دغه هېواد د ۲۴۵۲۵۴ کیلو متره پراخوالي له کبله د نړۍ ۴۰ م لوی هېواد دی. نفوس یې څه باندې ۱۱ میلیونه تنه اټکل شوی چې په هر کیلو متر مربع سیمه کې یې ۱۷ کسان ژوند کوي.

د سومالیا ۴۵ سلنه وګړي په ښارونو کې ژوند کوي او پاتې ۵۵ سلنه نور یې بیا په کلیو او بانډو کې مېشت دي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې د ٦ ماشومانو د درلودو اجازه لري.

سومالیا د اداري وېش له مخې په ۱۸ سیمو وېشل شوې. هارګیسا، بربره، بورکو، میرکا، بایدو او بوساسو یې مهم ښارونه دي. ۸٦ سلنه وګړي یې تور سومالي عرب او پاتې ۱۴ سلنه نور یې بیا غیر سومالي ډلې دي.

د دغه هېواد رسمي ژبې عربي او انګلیسي او لیکدود یې عربي دی. دغه راز ۹۹ سلنه وګړي یې مسلمانان او پاتې نور یې د بېلابېلو دینونو او عقیدو پیروان دي.

د سومالیا اساسي قانون د ۱۹۷۹ ز کال د اګسټ په ۲۵مه جوړ او د سپټمبر په ۲۳مه نافذ شو. سومالیا اوسمهال یوه انتقالي فدرالي اداره لري او دنده ورکړل شوې چې د دغه هېواد نوی اساسي قانون جوړ کړي.

د دغه هېواد د کابینې وزیران د لومړي وزیر په وړاندیز، د ملي شورا له خوا ټاکل کېږي. د سومالیا فدرالي ملي شورا ۵۵۰ غړي لري چې ۷۵ یې په مدني ټولنو او سوداګرو پورې اړه لري.

له هغه وخت څخه چې د سومالیا مرکزي دولت له پښو لوېدلی و، د دغه هېواد قضاییه قوه هم کمزورې شوې وه او هرې سیمې ځانته د حقوقي او جزایي پېښو د حل سیمه ییزې لارې غوره کړې وې. په هغو سیمو کې چې د الشباب اسلامي ډله واکمنه وه، مسایل د اسلامي شریعت په سیوري کې څېړل کېدل.

د سومالیا فدرالي شورا دوې جرګې لري: لومړۍ د خلکو جرګه چې ۲۷۵ غړي لري او د خلکو په خوښه ټاکل کېږي. دویمه پاسنۍ خونه چې ۵۴ غړي لري چې د سومالیا د فدرالي سیمو د خلکو له خوا ټاکل کېږي. دا جرګه له ۲۰۱۳ ز کال وروسته فعالیت نه لري.

دغه هېواد د ۱۹۶۰ ز کال د جولای په لومړۍ له ایټالیا او انګلستان څخه خپلواکي ترلاسه کړه، نو له همدې کبله د جولای لومړۍ هر کال په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.

سومالیا د ګڼو نړیوالو ټولنو ترڅنګ په ۱۹٦۰ ز کال کې د ملګرو ملتونو غړیتوب هم ترلاسه کړ.

سومالیا د نړۍ له ډېرو بېوزلو او وروسته پاتې هېوادونو څخه دی. دغه هېواد له یوې خوا لږ زېرمې لري او له بلې خوا د کورنۍ جګړې له امله ډېر ځپل شوی. د سومالیا اوسنی اقتصاد د څارویو پر روزنه، په بهر کې د سومالیایي کارګرانو پر عوایدو او مخابراتو ولاړ دی. کرنه او د څارویو روزنه د دغه هېواد ۵۲ سلنه صادراتي عواید او ۴۲ سلنه ناخالص کورني تولیدات برابروي. کوچیان او نیمه کوچیان چې د څارویو پر روزلو بوخت دي، د دغه هېواد د نفوس ستره برخه جوړوي. له څارویو وروسته کېلې، کبان او د ډېرو سکاره د سومالیا ستر صادراتي توکي بلل کېږي. ګنې، جوار او کبان د دغه هېواد مهم کرنیز حاصلات دي.

کوچنۍ صنعتي موسسې چې کرنیز محصولات د اومو توکو په توګه کاروي، د سومالیا ۸ سلنه ناخالص کورني تولیدات برابروي. په دې وروستیو کلونو کې د دغه هېواد ډېرې صنعتي موسسې لوټ شوې او ماشینونه یې په کورنیو جګړو کې له منځه لاړل. په تېرو ۱۴ کلونو کې د سومالیا مخابراتو ډېره وده کړې، اوسمهال د دغه هېواد په هر ښار کې ګرځنده ټلیفونونه شته چې خورا ارزانه دي. په سومالیا کې منظم بانکي سیستم لا هم نشته، خو د پیسو د لېږد او حوالو داسې رسمي او غیر رسمي سیستم لري چې په کال کې د څه باندې یومیلیارد ډالرو د لېږد او ورکړې وړتیا لري.

په سومالیا کې د افریقایي ټولنې یوشمېر سوله ساتي پوځونه پراته دي چې د دغه هېواد له دولتي ځواکونو سره یو ځای د پلازمېنې موګادیشو د امنیت سیمه پراخوي.

د سومالیا ناخالص کورني تولیدات ٦ میلیارده ډالره او د سړي سر کلني عاید اندازه یې ۷۴۴ ډالره اټکل شوې. د دغه هېواد کاري ځواک کابو ۴ میلیونو کسانو ته رسېږي او ۸۰ سلنه کورنۍ یې بیا د بېوزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کوي.

د تېلو استخراج او چاڼ، مخابراتي وسایل، ټوکران، خوراکي توکي، چرم، لرګي او لاسي کارونه د دغه هېواد په صنعت کې رغنده رول لوبوي.

د سومالیا ۳ سلنه ځمکه د کرنې وړ ده. د دغه هېواد ۷۰ سلنه خاوره څرځایونو، ۲۸ سلنه ځنګلونو او پاتې نوره بېدیاوو، غرونو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد ۷۵ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ٦۵ سلنه صادرات او ٦۲ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له دې سکټور څخه لاس ته راځي.

ګنې، وربشې، غنم، وریجې، حبوبات، جوار، کونځلې، پنبه، خرما، تنباکو، مېوې، سابه، غوښه، لبنیات، هګۍ او واښه د سومالیا د کرنې او څارویو مهم محصولات بلل کېږي. دغه راز سومالیا د پراخو څرځایونو د لرلو او د ډېرو خلکو د کوچیاني ژوند له امله د څارویو د روزنې لپاره مناسب شرایط لري.

اوسپنه، بوکسېټ، مس، یورانیم، مالګه او ګچ د دغه هېواد له لویو کانونو څخه دي. دغه راز د دغه هېواد د صادراتو ټوله بیه ٦ میلیارده ډالره او د وارداتو ټوله بیه یې ۲ میلیارده ډالره اټکل شوې ده.



یمن، عمان، چین، مصر، امریکا، هند او عربي متحده امارات د دغه هېواد لوی سوداګریز شریکان بلل کېږي. دغه هېواد ۷۰ هوایي ډګرونه لري چې ۲۰ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د ټلیفون کوډ نمبر یې ۰۰۲۵۲ او د انټرنېټ کوډ نمبر یې اېس او ډي دی او ۲ لکه خلک یې انټرنېټ ته لاسرسی لري.

په سومالیا کې ۴ ټلوېزیونونه او پنځلس خصوصي راډیو ګانې شته.

سومالیا د ناخالص کورني تولید او سړي سر کلني عاید او د پرله پسې جګړو د ورانیو له کبله د افریقا او نړۍ له وروسته پاتې هېوادونو څخه شمېرل کېږي. د دغه هېواد ۵۳ سلنه وګړي په لیک او لوست پوهېږي.

پخوانیو مصریانو سومالیا د داسې سیمې په توګه پېژندله چې خلکو یې خپلې کوچنۍ بېړۍ په اوږدو پاروګانو چلولې او له مصریانو سره یې راکړه ورکړه کوله. رومیانو هم له دې سیمې سره سوداګري درلوده؛ ځکه هلته ښه بوی لرونکي توکي لاس ته ورتلل. په اتمه میلادي پېړۍ کې عربو د سومالیا په سواحلو کې د استوګنې څو کلي جوړ کړل او د سیمې له منځنیو برخو سره یې سوداګري پیل کړه. له دې وروسته سومالیا د مصر لاس ته ورغله.

له ۱۲ تر ۱۵ میلادي پېړیو پورې یمني مجاهدینو د سومالیا ډېرې برخې ونیوې، د اسلام دین یې هلته ورساوه او اوسني جیبوټي ته نږدې د زیلع ښار یې د خپل حکومت د پلازمېنې په توګه وټاکه. له عربو سره سوداګریزو اړیکو او د زنګبار له سیمې سره نږدې اړیکو د سومالیا د اقتصاد له غوړېدو او پرمختګ سره ډېره مرسته وکړه.

پرتګالیانو په ۱۵۴۱ ز کال کې د افریقا د جنوبي سیمو سمندري لار وموندله او د هند د سمندر په اقتصادي ارزښت پوه شول، له همدې امله یې د ایتوپیا حبشي پوځونه پر سومالیا باندې یرغل ته وهڅول. حبشیانو د زیلع، بربره، براوا او موګادیشو ښارونه وران کړل او سومالیا ته یې د سر او مال درانده زیانونه واړول.

په دویمه نړیواله جګړه کې ټوله سومالیا په ۱۹۴۰ ز کال کې د ایټالیا لاس ته ولوېده او یو کال وروسته برېټانویانو ټوله سومالیا ونیوه. په ۱۹۵۰ ز کال کې ملګرو ملتونو د سومالیا ایټالوي برخه بېرته ایټالیا ته ورکړه او ژمنه یې ترې واخیسته چې لس کاله وروسته به دې سیمې ته خپلواکي ورکوي. په ۱۹۵٦ ز کال کې ایټالیا خپلې سومالیې ته خپلواکي ورکړه.

په ۱۹٦۰ ز کال کې د سومالیا د خلکو د پرله پسې هڅو او په افریقا کې د هېوادونو د خپلواکۍ د بهیر له چټکتیا سره جوخت د دغه هېواد د ایټالیا او برېټانیا تر لاس لاندې سیمې سره یو ځای شوې او د سومالیا د جمهوریت په نامه یې یو خپلواک دولت جوړ کړ.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د سومالیا نوم نشته، نو له همدې امله دغه دواړه هېوادونه په خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

له افغانستان څخه تر سومالیا پورې د هوا له لارې فاصله ۳۸۸٦ کیلو مترو ته رسېږي. دغه راز د کابل او موګادیشو ښارونو ترمنځ د وخت توپیر یو نیم ساعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۹۵ |
| € | ۸۵,۸۰ |
| Rp. | ۵٤۲ |
| ₹ | ۱۰۵۵ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹٦,٤۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# په ایران کې دغو ځایونو ته تر ټولو ډېر سیلانیان ورځي

**ژباړه: حمیدالله حمیدي**

ایراني معماران په هنر، سلیقه او ظرافت کې خورا مشهور دي. ان دا چې د نړۍ په ډېرو مشهورو او زینتي ودانیو او د همدې ودانیو لپاره د ښکلو فرشونو جوړولو په برخه کې ایراني هنرمندانو او معمارانو برخه اخیستې ده. د ایران هر ښار د سیل او چکر لپاره په زړه پورې پارکونه، موزیمونه او تاریخي ابدې لري چې هره یوه یې په لیدلو ارزي. په دې لیکنه کې مو یې ځینو مشهورو ته کتنه کړې ده.

**۱- عالي قاپوه، اصفهان**

د عالي قاپوه ماڼۍ د نقش جهان میدان په لوېدیځه ضلع کې د شیخ لطف الله جومات ته مخامخ موقعیت لري. کېدای شي پوښتنه درته پیدا شي چې قاپوه یعنې څه؟ قاپوه یا قاپي په ترکي ژبه کې ورودي دروازې، عالي او هم د لوی او بزرګ په مانا ده. دغه ماڼۍ د لومړي شاه عباس په امر د ۹۷۳ او ۹۷۷ ز کلونو ترمنځ جوړه شوې ده. د ماڼۍ بېرون او دننه په ډېر ښکلي ظرافت جوړ شوي او هکاکي شوي دي. که ایران ته په سفر ولاړئ، له لیدلو یې هرو مرو خوند واخلئ.

**۲- د کریم خان ارګ، شېراز**

د ایران شېراز ښار له راز او نیاز ډک ښار دی چې ډېر تاریخي ځایونه او ودانۍ لري. له دې ډلې یو هم د کریم خان ارګ دی. کریم خان ارګ د شېراز په مرکز کې موقعیت لري. دغه ودانۍ د زندیه په وخت کې جوړه شوې ده چې د وخت مشهورو هنرمندانو او معمارانو یې په جوړولو کې ونډه اخیستې ده. له دې ماڼۍ څخه په کلني ډول ډېر بهرنیان لیدنه کوي چې د عوایدو ښه سرچینه هم بلل کېږي.

**۳- د ازادۍ برج، تهران**

د ازادۍ برج له انقلاب څخه مخکې په ۱۳۵۷ لمریز کال کې جوړ شوی دی چې د تهران ښار یو لوی سمبول او نمونه بلل کېږي. د دغه مشهور سمبول معمار حسین امانت دی چې د برج چارې یې په ۱۳۴۹ لمریز کال کې پیل کړې او په ۱۳۵۷ لمریز کال کې پای ته ورسېدې. دا هم په ایران کې هغه ځای دی چې په کلني ډول ترې ډېر کسان لیدنه کوي.

**۴- د دولت اباد باغ، یزد**

د دولت اباد باغ د یزد له مشهورو او پخوانیو باغونو څخه بلل کېږي. دغه باغ د افشاریه دورې په وروستیو کې د مشهور خان محمد تقي په امر چې په لوی خان مشهور و، جوړ شوی دی. له دغه باغ څخه تر ډېره د حکومتي تشریفاتو او غونډو لپاره کار اخیستل کېده.

**۵- د قالینو اوبدلو مرکز، شېراز**

د فرشونو اوبدل په ایران کې ډېره پخوانۍ مخینه لري او له مهمو صنایعو څخه یې شمېرل کېږي. ایراني فرشونه په ټوله نړۍ کې مشهور دي. د ایران په شېراز کې د فرش اوبدلو تر ټولو لوی مرکز دی چې پر سوداګرو سربېره یې عام بهرنیان هم لیدو ته ورځي.

**٦- د شېراز د ارام باغ**

د شېراز د ارام باغ په ایران کې له مشهورو باغونو څخه شمېرل کېږي. دغه باغ ته په ورتلو او ښه طبیعت ته کتل مو حال او احوال بدلوي. دغه باغ په دننه کې څو تاریخي معمارۍ او ودانۍ هم لري. دغه راز د شېراز په ارام باغ کې د ګیاه پېژندنې یو مرکز هم شته. ایرانیان وایي، که ستاسو کامره هر څومره بې کیفیته وي، خو که په دغه باغ کې عکسونه واخلئ، نتیجه به یې ډېره ښه وي.

**۷- د فروغ الملک کور، شېراز**

دغه کور د قاجار په وروستۍ دوره او د شېراز په یوه پخواني او تاریخي ځای کې ودانه شوې ده. درې پوړه لري او دوه برخې بېرونۍ او باندنۍ لري. په دغه کور کې اوس د موشکین فام هنري موزیم فعال شوی دی.

**۸- د نصیرالملک جومات، شېراز**

په دغه ښکلي جومات کې له رنګه شیشو څخه کار اخیستل شوی دی، نو له همدې کبله ورته صورتي مسجد هم وایي. په ژمي او اوړي کې یو ډول اووه رنګه نور له بېرون څخه د جومات دننه ته داخلېږي. دغه مسجد د شېراز تر ټولو پخوانی جومات دی چې د میرزا حسن علي خان په امر چې په نصیر الملک باندې ملقب و، جوړ شوی دی.

**۹- د نیاوران ماڼۍ، تهران**

دغه ماڼۍ د شهید په میدان کې موقعیت لري. د فتح علي شاه قاجار په دوره کې په همدغه ځای کې تر دې یوه کوچنۍ ودانۍ جوړه شوې وه چې بیا وروسته د محمد رضا پهلوي په زمانه کې ونړول شوه او د نیاوران ماڼۍ یې پر ځای ورغېده.

**۱۰- د حافظ مقبره، شېراز**

حافظیه د شېراز ښار په شمال او د قران دروازې په جنوب کې موقعیت لري چې د حافظ مقبره هم هملته ده. فرانسوي لرغون پېژندونکی اندره ګدارا د پهلویانو په وخت کې ایران ته ولاړ چې د وخت د حکومت په مرسته یې دلته یو ځانګړی ځای جوړ کړ. په دې ځای کې اوس د شعر او ادب ډېر مینوال را ټولېږي.

## د کار او ټولنیزو چارو وزارت: افغان ماشومان لا هم په ناوړه وضعیت کې دي

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د افغان ماشومانو په ناوړه وضعیت اندېښنه څرګندوي.

دغه وزارت وایي، په دغه هېواد کې روانو جګړو ماشومان هم ډېر اغېزمن کړي او له ډول ډول ستونزو سره مخ دي.

د کار او ټولنیزو چارو وزیر فیض الله ذکي تېره ورځ د ماشومانو ستونزو ته د رسېدو په موخه له ځینو بهرنیو ادارو سره د یوې مشورتي ناستې پرمهال وویل، دا مهال له افغان ماشومانو د درنو کارونو ترڅنګ د جګړې په لیکو کې هم کار اخیستل کېږي.

نوموړي وویل: «په جګړو کې ماشومانو ته ډېر زیان رسېږي، په ځانګړې توګه د دولت وسله والې ډلې په ماشومانو هېڅ ډول رحم نه کوي چې ډېر تلفات د هغوی د عملیاتو پر مهال ماشومانو ته اوړي، یوشمېر ماشومان بیا معتاد دي او یوه بله کتګوري ماشومان چې له ناوړه وضعیت سره مخ دي، هغه محبوسین دي. په ټوله کې ۲۵ کټګورۍ ماشومان دي چې زیان منونکي دي، خو تر ټولو د پام وړ ستونزه دا ده چې لږ تر لږه ۳،۷ میلیونه ماشومان ښوونځي ته له تګه پاتې دي.»

دغه وزارت وایي، له شته هڅو سره سره بیا هم له وخته مخکې ودونه، درانه او زیات کارونه، زده کړو ته نه لاسرسی، روغتیایي ستونزې، په جګړو کې له ماشومانو استفاده، تاوتریخوالی، معلولیت، بې‌ځایه کېدل او په سرحدونو کې له ماشومانو سره ناوړه چلند، هغه موارد دي چې د افغان ماشومانو ژوند ګواښي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم په افغانستان کې د بشري حقونو سازمان او د ماشومانو د ملاتړ ملي او نړیوالې ادارې اندېښنه ښودلې چې د حکومت مخالفو وسله والو ډلو له لورې په جګړه کې ماشومان کارول کېږي.

د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د شمېرو له مخې، دا مهال په هېواد کې له ۵ تر ٦ میلیونه بېوزله ماشومان له خطر سره مخ دي.

په ورته وخت کې یونیسف یا د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق له ماشومانو د ملاتړ موسسې یا سېف د چلډرن او یوشمېر نورو ادارو هم په افغانستان کې د ماشومانو د ناوړه وضعیت په اړه اندېښنه ښودلې ده.

## د غور د پسابند ولسوالۍ اوسېدونکي له تېرو اتو میاشتو راهیسې کلابند دي

د غور ولایت د پسابند ولسوالۍ یوشمېر اوسېدونکي ادعا کوي چې د دې ولسوالۍ پر مواصلاتي لارو د طالبانو د ماین کارۍ له امله خلک په بد اقتصادي وضعیت کې ژوند کوي.

دوی وایي، امنیتي ځواکونو هم د یادې ستونزې د حل او له لارو د ماینونو د ایستلو لپاره تر اوسه کوم اقدام نه دی کړی.

د دې ولسوالۍ یوشمېر اوسېدونکو پژواک ته ویلي، پسابند تر اقتصادي کلابندۍ لاندې ده او ځینې خوراکي توکي په بازار کې نه پیدا کېږي.

د دې ولسوالۍ اوسېدونکو دغه راز ویلي، اوس تر اقتصادي کلابندۍ لاندې دي او همدا اوس وریجې، غوړي او نور خوراکي توکي په بازار کې نه پیدا کېږي او د یو لېتر پټرولو بیه ۱۳۰ افغانیو ته رسېدلې ده.

د دې ولسوالۍ یوه اوسېدونکي عبدالاحد پژواک ته ویلي: «زموږ په بازار کې وریجې، اوړه، غوړي او نور خوراکي او اړین توکي چې د یو کور اړتیا پوره کړي، ډېر په سختۍ پیدا کېږي. دا چې طالبانو په لارو کې ماینونه ځای پر ځای کړي، نو ځکه دوکانداران څه نه شي راوړلای.»

نوموړي زیاته کړه، همدا اوس د یو لېتر پټرولو بیه ۱۳۰ افغانۍ ده او خلک یې د اخیستو توان نه لري.

بلخوا د غور د والي ویاند عبدالحي خطیبي د یادې پېښې په تایید سره ویلي، په پسابند ولسوالۍ کې د زیاتو وسله والو طالبانو شتون د یادو ستونزو لامل شوی او دغه ولسوالي یې تر «سختې اقتصادي» محاصرې لاندې کړې.

د غور د ولایتي شورا غړی عبدالبصیر قادري وایي، له تېرو اتو میاشتو راهیسې طالبانو دې ولسوالۍ ته د بار وړونکو موټرو پر راتلو بندیز لګولی او د دې ولسوالۍ اوسېدونکي له سختو ستونزو سره مخ دي.

نوموړي له حکومته وغوښتل چې یادې ولسوالۍ ته د امکاناتو رسولو او د اقتصادي کلابندۍ د له منځه وړلو لپاره بیړنۍ اقدام وکړي. هغه زیاته کړه: «په پسابند ولسوالۍ کې اقتصادي وضعیت دومره خراب دی چې خلک لومړنیو خوراکي توکو ته لاسرسی نه لري». د هغه په خبره، که حکومت د یادې ستونزې د حل لپاره اقدام ونه کړي، د خلکو ستونزې به له دې نورې هم زیاتې شي.

د پسابند ولسوالي د افغانستان په سوېل کې له هلمند ولایت سره ګډه پوله لري چې تل په کې د امنیتي ځواکونو او طالبانو ترمنځ سختې جګړې رامنځته کېږي.

## متېس: له افغانستانه د سرتېرو د ایستلو پلان نه لرو

د امریکا دفاع وزیر جېمز متېس ویلي، د افغان جګړې ختمول غواړي، خو دمګړۍ له دغه هېواده د سرتېرو ایستلو اراده نه لري.

نوموړي چې د امریکا د مرکزي دفاعي فورم (نېشنل ډېفنس فورم) ته وینا کوله، په ډاګه کړه چې دوی په افغانستان کې د جګړې ختمول غواړي، خو خپل سرتېري له دغه هېواده نه وباسي.

هغه زیاته کړې، امریکا په ټول توان هڅه کوي چې په افغانستان کې اوږده جګړه پای ته ورسوي، سیاسي مذاکرات یوې پایلې ته ورسېږي، خو تر اوسه یې په دې اړه پرېکړه نه ده کړې چې خپل ځواکونه په لنډمهال کې له دغه هېواده وباسي.

د متېس په وینا، په افغانستان کې د سولې راوستل یوازې د امریکا کار نه دی، بلکې طالبان هم باید په دې برخه کې همکاري وکړي.

د ده په خبره، د سیمې هېوادونه او ملګري ملتونه هم باید د افغانستان د سولې له پروسې سره هر اړخیزه مرسته وکړي او دغه هېواد ته ثبات راولي.

د امریکا د دفاع وزیر دغه راز زیاته کړې چې طالبانو د افغان حکومت د سولې وړاندیز و نه مانه او دوی ثابته کړه چې د افغانانو ژوند ورته ارزښت نه لري.

متېس وایي، د امریکا حکومت غواړي چې د ۴۱ هېوادونو له سرتېرو سره څنګ په څنګ په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد مبارزې ته ادامه ورکړي.



مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري، جواد تیموري او امان الله حنیفي
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey




دوشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۱۲مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر درېیمه | دویم کال | ۲۹۳یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱٤ | ۱٦ | ۲۰ | ۱۲ | ۲۲ |
| ۱ | ۱ | ۳ | ۲ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۳ | لمر ختل ۰٦:٤۳ | ماسپښین ۱۲:۱۱ | مازیګر ۰٤:۰۲ | ماښام ۰۵:۳۸ | ماخوستن ۰۷:۰۸

نړۍ



# ایران: د توغندیو هدف مو دفاعي دی او د ملګرو ملتونو له موافقي سرغړونه نه ده

۲

## رئیس عملیات ساحه‌یی کمیسیون انتخابات به اتهام فساد بازداشت شد




کمیسیون مستقل انتخابات، در حدود یک ماه پیش به علت نا به سامانی‌ها در برگزاری انتخابات مجلس نماینده‌گان در ماه میزان، زمری قلم‌یار، رئیس عملیات ساحه‌یی این نهاد را به ولایت غزنی تبدیل کرد و عبیدالله نیازی، رئیس کمیسیون انتخابات ولایت کنر را به جای وی گماشت.
اکنون نهادهای ناظر بر روند انتخابات، از بازداشت عبیدالله نیازی از سوی ریاست امنیت ملی به اتهام فساد مالی خبر می‌دهند.
این نهادها، از رسیدن گزارش‌های فساد در کمیسیون مستقل انتخابات به این نهاد نیز سخن می‌زنند و از ریاست امنیت ملی می‌خواهند که فساد مالی در این نهاد را باید به گونۀ بی‌طرفانه بررسی کند.
یوسف رشید، رئیس اجرایی بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه در این باره گفت: «در قضیه گفته شده که باالفعل دستگیر شده، فعلاً در توقیف است. درعین حال آگاهی حاصل کردیم که تلاش‌ها از سوی بعضی از همکاران کمیسیون جریان دارد که این آدم نجات پیدا کند که برای ما این موضوع بسیار جدی است.»
سید ذبیح الله سادات، معاون سخن‌گوی کمیسیون مستقل انتخابات می‌گوید که تاکنون ریاست امنیت ملی به گونۀ رسمی به آنان نیز چیزی نگفته است. وی افزود: «رهبری کوشش دارد که این موضوع را دقیق بسازند که واقعیت چه است؛ آیا آقای نیازی کدام موضوع دیگر داشته و یا هم کوشش این را داشته که در پروسۀ انتخابات کوشش کند که کسی را کامیاب بسازد یا ناکام، یا از کسی پول دریافت کند. برای صدق این موضوع، رهبری تلاش دارد تا با نهادهای امنیتی این موضوع را بررسی کند و واقعیت را پیدا کنند.»

